# سپینه واوره



وایي وو نه وو یو ښه او عادل پاچا وو . دې پاچا یوه ښکلې مېرمن درلودل . دوی په یو ښایسته قصر کې اوسېدل ، چې پر شا او خوا یې جګې او مېوه داري وني را ګرځېدلې وې . پاچا او ملکې به دواړو دخپل قصر څخه کله کله د ونو منظره کوله او د ژوند قصې به یې هم کولې .

د ژمي په ورځو کې یوه ورځ، کله چې ملکه د خوبه راکښېناسته نو که یې کتل چې واوره اوري . زمین او زمان ټول تک سپین دی . هري خواته چې ګوري نو واوره پرته ده او لا نوره هم اوري . ملکې د واورو ځپرکو ته کتل چې ځنګه په نڅا نڅا تر مځکې راتله، په دې وخت کې داسې فکر ور ته پیدا سو او دځانه سره یې وویل : کاشکې مې یوه لور درلودای، چې د واورې په ځېر سپینه وای ما به سپینه واوره (بللای) .

وایي چې د آمین مرغه تېریدی او د دې پر غړښتنه یې آمین ووایه . پر کال هغه د ژمي شپې وې چې د بختور پا چا کره یوه وړوکې شاهزادګۍ د نیا ته راغله . مور یې د سپینې واورې نوم پر کښېښنودئ .د پاچا هم دانوم ډېر خوښ سو .



سپینه واوره پر خپل مور او پلار ډېره ګرانه وه ، دوی هم ډېر په خوشحاله وه، خو د بده مرغه خوشحالې د دوی په نصیب کې څه بقا پیدا نکړه او د سپینی واورې مور له دنیا څخه سترګې پټې کړې .

پاچا خوار د ملکې په غم خورا ډېر خپه سو . په دې کې څو کاله تېر سول . پاچا ډېر یوازې وو، او د سپینې واورې روزلو ته به یې هم زړه پرېشانه وه، نوهغه و چې دوهم واده یې و کړ . دا ځل د پاچا غریب قسمت د یوې کوډګرې ښځې سره وسو . دی په دې راز نه وو خبر چې دا نه یوازې کوډګره وه، بلکه ډېره مکاره او په خپل ښایست باندی مغروره ښځه هم وه . خوښه یې وه چې د هر چا څخه خپل صفت وا وری . د دې به نه خوښېدل، چې تر دې دې ځوک ښایسته وي . دې کوډګرې ملکې د جادو یوه هنداره هم درلودل . هر سهار به یې دې هنداري ته خپل ځان سینګاراوه، او بیا به یې د هنداري څخه داسې پوښتل :

هندار ي هنداري، وایه رشتیا ځوک ښایسته دئ پر دنیا

هنداری به په جواب کې داسې ورغبرګه کړه:

وایم زه به ټل رشتیا ښایسته نسته بې له تا

د دې خبرې د اورېدو سره سم به مکاره ملکه خورا وغوړېده او د ځان سره به يې وخندل .



څه مو سر پر له ګرزوم . د عمر د تېرېدو سره د سپيني واورې څخه هم ډېره ښايسته نجلې وخته، داسې ښايسته چې د چا سترګې پکښې پاتېدې .

يو سهار کله چې ملکې بيا د خپلې هنداري څخه د ښايست په باب وپوښتل نو دا واري يې داسې جواب تر لاسه کړ :

وايم زه به تل رشتيا سپينه واوره ښايسته ده پردنيا



ملکې چې کله د هنداري دا خبره واوريده نو ډېره په قهر او غضب سوه، په لوړ آواز يې خپل سپاهي ته ورناري کړه، هغه هم د سترګو په رپ کې د دې و حضور ته حاضر سو، نو يې داسې امر ورته وکړ : ولاړ سه او سپينه واوره ځنګله ته (بوزه)، هلته يې مړه که او زړه يې ماته راوړه! سپاهي چې کله د دې د قهر او غضب نه ډک مخ وليدئ نو ځای پر ځای د سپيني واوري د کوټې پر خوا روان سو، هغه يې په دې رازي کړه چې ځنګله ته يې بوزي . هلته چې يې بوتلل نو يې سپيني واوري ته وکتل، زړه يې ډېر پر وسوځېده، هر څه کوښښ چې يې کاوه نو داسې ښکلې شاهزادګۍ يې پر مرګ نه پېرزو کيدله، هغه وو چې دغه سپاهی ټوله حکايت د سر څخه تر پايه و سپيني واوري ته و کړ او دا وعده يې ورسره وکړه ، چې که چيري شاهزادګۍ قصر ته نه را ګرځي نو ژوندۍ به يې پرېږدي . شاهزادګۍ په زهير مخ جواب ورکړ : سمه ده زه به هم دلته پا ته سم . دې خواري بله چاره هم نه درلودل .

سپاهي چې کله د دې هوکړه تر لاسه کړه، نو بيرته د قصر پر خوا روان سو . په لاره کې يې يوه هوسۍ ښکار کړه، زړه د ثبوت په توګه جادوګرې ملکې ته ور وړ . ملکې چې کله د هوسۍ زړه و ليدئ نو باغ باغ سوه، نور يې نو څه اندېښنه نه درلودل . سپاهي ته يې په ډېر خشم سره داسې وويل : " که دې خپل ژوند در باندې ګران دئ نو به دي تر خولې يوه خبره هم پا چا ته نه وزی، که نه نو د سترګو په يوه رپ کې به دي تر دنيا تېر کړم" . سپاهي په رېږدېدلې آواز ورته وويل :" نه مې څه ليدلي دي ، نه مې څه کړي دي ".



دا به دلته پرېږدو او را به سو شاهزاګۍ ته چې نصيب خوار يې څه سرګرداني ور په برخه کړې ده.

کله چې شاهزاګۍ په ځنګله کې يوازې پا ته سوه، نو دا نه پوهېده چې پر

کومه خوا مخ ونیسي . شاوو خوا يې کتل په دې وخت کې هوا تاريکه سوه، او شپه هم پر راغله، د يخ او بيري څخه لړزې اخستې وه، چې نا ځاپه يې، د ليرې روښنايي تر سترګو سوه، او پر هغه لورې روانه سوه . يوڅه چې ولاړه نو يې پر يو کوچني کورګي سترګي ولګېدې . دروازه يې ور وټکول، هيڅ جواب يې وانه ورېده، نو کراريې تر کړکی سر ور ايسته کړ، څوک نه ښکارېدل . د سپيني واوري داسي يخ سوئ وو چې بل د هيڅ شي فکر يې نسوای کولای، نو يې سمدستي دروازه ور خلاصه کړه .  که ګوری چې په يوه غټه خونه کې ۷ مېزونه او ۷ چوکی پرتې دي، پر هر مېز يوه ډکه کاسه ښوروا پرته ده، دهري کاسي تر څنګ يوه يوه کاچوغه (قاشوقه) او يو اتام ډوډي هم پرته ده . سپيني واوري مزل ډېر کړئ وو او خورا وږې سوې وه ، ورغله  او لومړي مېز ته کښېنسته او ځان يې ښه موړ کړ  .

په دې کوچني کورګي کې لوړي ځيني ختلي وې، سپينه واوره په ځينو کې وختل ، که يې کتل چې په حساب ۷ چپرکټان پراته دي، تر ټولو هغه کوچني کټ ته ور وختل، دا خورا ستړې او ستومانه وه ستر ګي يې لانه وې غړولي چې په ډېر درانه خوب واووښته .

دا کوچنی کورګي په اصل کې د اوو ورونو وو، د ماخستن مهال وو، چې اوه ورونه د کاره راغله .  اوو سرو ساه په اوږو شړله او لوړی رااخيستي وه که يې کتل چې د کور دروازه يې خلاصه ولاړه ده . دا يوه ورور و  هغه بل ته و وويل :"  سهار مو دروازه هيره سوې ده چې په ځان پسې يې وتړو"  .  کورته چې ورننوتل هغه بل سترګي را غتې کړې او په لوړ آواز يې وويل :"  دا  زما ښوروا چا نوش جان کړېده "؟ دوی يوبل ته سره وکتل ، په دې وخت کې يوله دوي څخه  ژر لوړ وخوت .که ګوري، چې يوه ښايسته نجلۍ يې پر کټ بيده ده . خپلو ورونو ته يې ور بږغ  کړل، د ده د بږغه سره سم سپينه واوره د خوبه راکښېنستل ،سترګي چې يې خلاصی کړې ګوري ګوري چې  اوه سره ورونه د ورکوکي کټ پر شاواخوا را تاو سوي دي . دوي دې ته په ځير ځير کتل په دې وخت کي سپينه واوره په ژړاسوه، يو د دوی څخه  ورته وويل :"  ولي ژاړې "؟ دې په جواب کي خپله ټوله کيسه ورته وکړه . ځکه چي دا اوه ورونه ډېر زړه سواندي وه نو دې ته يې په خپل کورکي د پا تېدو اجازه ورکړه ، او ورته يې وويل :"  پام کوه چې هيڅ کله دروازه چاته خلاصه نه کړې" . دې هم ورسره و منل .

سپيني واوري به کله کله خپل پلار ډېر يادواه، خو د ميرې له بيري به يې دا جرأت نه کاوه چې کورته ولاړه سي . پلار يې هم ټوله ښارونه په دې پسې لټولي وه خو د دې پته نه ورته لګيدله .

دابه دلته پريږدو او رابه سو جادوګري ملکې چې د دې هنداره  اوس څه ورته وايي؟

د ملکې زړه هم پر آرامه نه وو، د جادوګري هنداري څخه به يې يوازې د سپيني واوري صفتونه اورېدل، دا هم په دې پوه وه چې سپينه واوره ژوندئ ده، خو دا ورته آسانه نه وه چې څنګه او چيري يې پيدا کړي . يوه ورځ يې د هنداري څخه بيا وپوښتل :

هنداري هنداري وايه رشتيا  څوک ښايسته دئ پر د نيا

هنداري به په جواب کي داسي ورغبرګه کړه :

زه وايـــــم تـل رشـــتيا    سپينه واوره ښايسته ده پر دنيا
ټول ځنګل په دې زيبا    د اوو ورنـــو په منځ کي دا يکتا

د هنداري په دې جواب سره ملکه د قهره سره او شنه سوه، په چټکي سره ولاړه او يوه دانه سور سېب يې د باغه راوړئ، په خپل جادو سره يې نيم د زهرو ډک کړ ، او پاته نيم يې همداسي پرېښود، بيا يې نو په يوه غورځکه خپل د مخ بڼه د يوې بوډۍ په شکل واړول، او د ځنګله پر خوا روانه سول، د لږ مزل نه وروسته هغه کوچني کورګي ته راورسېدل چيري چي سپينه واوره د اوو ورونو سره خوشحاله اوسېدله، د کورګي پر خوا ورغله او دروازه يې ور وټکول، سپيني واوري کړکۍ خلاصه کړه چي و ګوري ،څوک دي؟ بوډۍ په ډېره خندا او چالاکي غلي غلي سوه او د سپيني واوري سره يې ستړې مسې وکړه، په خورا مهربانه آواز يې ورته وويل :" زويکه په دې تور ځنګله کي يوازي اوسيږي "؟ سپيني واوري په جواب کي داسي ورته وويل : " نه ، ولي به يوزاى يم خپل اوه ورونه مي راسره دي، هغه اوس شايد راسي" . بوډۍ په خپله غوټکۍ کي وکتل ، څو واره يې سره واړول راواړل بيا يې نو ورته وويل :" زويکه بل هيڅ شي راسره نسته چي در يې کم دغه يوه مڼه راسره ده نيمی يې ستا او نيمی يې زما". بوډۍ مڼه را و ايسته او هغه برخي چي يې زهر نه درلودل خپله وخوړله او پاته يې سپيني واوري ته ورکړه . سپيني واوري هم بي له کمه شکه مڼه د بوډۍ څخه واخيسته او په خوړلو يې شروع وکړه، يو څه يې لانه وخوړلې چي ځاى پر ځاى بېسده پر مځکه ولوېده . جادوګري ملکي چي دا پلا سپينه واوره د سر په سترګو وليده نو يې زړه ته ولوېده چي دا خو يې د مخه ليري سوه، نو په خورا چټکي يې ځان بيرته خپل قصر ته ورساوه .

په دې وخت کي ماښام سو او اوه ورونه ستړی ستومانه د کاره راغله . ور چي يې خلاص کي نو يې سپينه واوره پر مځکه وليده چي پرته ده،په چيغو او نارويې لاس پوري کړ ، ډېر په غمجن سول،له دوی نه يو ولاړ او يوه دانه ښيښيي صندوق يې راوړ ، سپينه واوره يې پکښي پرې ايستل او پر يو نامعلوم طرف روان سول، دوي خواران هم نه پو هېدل چي څه وکړي، په دې وخت کي که ګوري چي يو شاهزاده پر آس سپور دئ او مخ د دوي پر خوا راروان دي . د شاهزاده چي کله سترګي پر دي ښايستي نجلۍ ولګېدې نو يې په لوړ آواز ناري کړې :" دا څوک ده او تاسي په دې څه کوي" . دوي ورخطا سول او صندوق يې پر مځکه کښېښود، له دوي نه يوه کيسه ورته پيل کړه، کله چي شاهزاده د دوی کيسه واورېده نو ډېر خپه سو، د صندوق سر يې خلاص کړ او سپينه واوره يې ځني راپورته کړل، د راپورته کېدو سره سم سپيني واوري و ټوخل او د سيب ټوټه يې د خولې څخه راولوېده، سترګي چي يې خلاصي کړې ، نو شاهزاده يې وليدی، دا لا هکه اوحيرانه پا ته وه چي اوه ورونه ټوله په خوشحالي سوه، شاهزاده ځاى پر ځاى د دې څخه د واده خواهش و کړ او دې هم هو ورته وکړه .

وايي چي دوی پس له هغه نه ښه او خوشحاله ژوند درلود. د سپيني واوري پلار هم د ټول جريانه خبر سو او جادوګره ملکه يې په خپله سزا ورسول .

کيسی ولاړه په کولاک ننوتل زه راغلم په تلتک ننوتم

کريمه نعيمی
لندن